یحیی ستانکزی ۲۰۱۳/۰۷/۲۳

# پاکستان د افغانانو اجرتي قاتل

یو مهال برېټانوي امپراتوري دومره پراخه وه، چې امریکا یې هم یوه مستعمره وه. برېټانیا پر افغانستان هم درې ځله یرغل کړی او دا یې انګېرله چې پر دغه هېواد به هم د نورو هېوادونو په څېر د ډېري مودې لپاره خپل راج وچلوي، خو په دریېم ځل یوه شول چې درې واړه ځله یې لویه تېروتنه کړې. برېټانیا ۲۰۰ کاله په هند کې پاتې شوه او د روسیې د امپراطورۍ او د لویې افغانستان له متوجه ګواښونو د هند د ساتلو لپاره یو محافظتي دېوال یې اړین ګاڼه.
دغه دېوال یې د هند په لویدیزه برخه کې رامنځته کړ، چې بیا وروسته د هند د خپلواکۍ پرمهال تری پاکستان یې جوړ کړ.
د هغو کتابونو له مخې چې د پاکستان په هر ښوونځي او پوهنتون کې اجباري لوستل کېږي، هندوستان او پاکستان په دې اصل سره جلا کړل شول چې هندوان به په هندوستان کې پاتې کېږي او مسلمانان به پاکستان ته راتولیږي. لومړی خو دا اصل هېڅ رعایت نه شو، ځکه چې له پاکستان نه په هندوستان کې ډېر مسلمانان هغه مهال هم پاتې شول او اوس هم ډېر مسلمانان هلته ژوند کوي. خو که دې ته وګورو چې هغه هندوستان، یعنې د هندوانو هېواد او دا پاکستان، یعنې د مسلمانانو هېواد دی، نو په کار خو دا وه چې برېټانیا له هندوانو سره ډېره مرسته کړې وای، نه له مسلمانانو سره، خو برېټانیا له پاکستان سره ډېره مرسته وکړه، ان په لومړي سر کې د پاکستان د پوځ او د دې هېواد د استخباراتي ادارې ای، ایس، ای مشران برېټانویان وو. اخر دا ولې؟ له عقیدوي پلوه خو هندوان برېټانویانو ته نږدې دي، نو بیا یې ولې له داسې چا سره مرستې ته راودانګل چې له عقیدوي پلوه یو د بل ضد دي، په داسې حال کې چې د پاکستان د رامنځ ته کېدو هدف ((لا اله الا الله)) ښودل کېده.
د پاکستان رامنځ ته کول اصلاً د پورته یاد شوو هدفونو د پلي کولو لپاره یوه پروژه وه چې په سر کې یې محمد علي جناح و او اوس یې یو څو عیاش او شرابیان پوځیان پر مخ وړي. د محمد علي جناح په اړه یوه خبره داسې مشهوره ده چې نوموړي لمونځ نه پیژانده او کله یې د لومړي ځل لپاره ولید، نو ویې ویل چې دا یو ښه ورزش او تمرین دی او داسې هم ویل کېږي چې په پاکستان پر دوو شیانو څېړنه جواز نه لري، یو پر محمد علي جناح او دویم د پاکستان پر پولو.
پاکستان اصلاً په سیمه کې د انګلیس د نفوذ د استمرار او شیطنت د یوې پروژې په ډول مطرح شو او ژوند یې له همدې شیطنت سره وتړل شو.
یعنې انګرېزانو پاکستاني واکمن او پاکستان د انګلیس د یوې پروژې لپاره اجوره کړي وو.
د دې پروژې د پلي کولو پر وړاندې که د پاکستان خپل ارزښتونه هم مخ ته راشي، له پامه غورځول کېږي، ځکه که دا پروژه پلي نه شي، نو بیا خو پاکستاني واکمن د هغو امتیازاتو د لاسته راوړلو حق نه لري چې د دې پروژې د پر مخ بیولو په بدل کې یې ور سره ژمنه شوې ده.
لنډه دا چې پاکستان، په ځانګړې توګه د دغه هېواد پوځ او استخبارات د افغانانو، په خاص ډول د پښتنو اجرتي قاتلان دي او دا نه لنډمهالي او نه هم اوږدمهالي، بلکې تلپاتي او عمري پروژه ده چې د پاکستان پوځ یې باید پر مخ یوسي.
هغه مهال چې د دې پروژې د پلي کولو لپاره برېټانویانو کوم مهم کار کړی و، هغه د پښتنو په منځ کې د ډیورنډ کرغېړنه کرښه تېرول و. که برېټانویانو دا کار نه وای کړی، نو هېڅ به د افغانانو د نفوذ د مخنیوي دې پروژې ته غاړه نه وای ایښې.
پاتې شوه د پاکستان د ملکي حکومتونو یا سیاسیونو خبره، هغوی عاجزان د خپل ځان واک نه لري، بې نظیر بوټو د پاکستان پوځ ته په دولت کې دولت نوم ورکړی و او نه یوازې دا، بلکې پلار یې هم همدې په دولت کې دولت، له منځه یووړه.
د پاکستان په تاریخ کې یوازې تېر حکومت خپله پنځه کلنه قانوني دوره پای ته ورسوله، د دې معنی دا ده چې په پاکستان کې هر څه د پوځ او استخباراتو په لاس کې دي. نواز شریف چې دا مهال د پاکستان صدراعظم دی، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستان له پوځ څخه یې په زړه تناکې ولاړې دي. نواز شریف او افغانستان ته د ده رالېږلی استازی سرتاج عزیز د پاکستان د پوځ له خوښې پرته هېڅ نه شي کولای، دا هسې نمایشي ډپلوماتیک سفرونه دي، چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ ترسره کېږي.
اصلي خبره دا ده چې څه موده وړاندې د پاکستان پوځ له ولسمشر حامد کرزي نه په افغانستان کې د نه مداخلې په بدل کې یو لړ رسمي غوښتنې کړې وې، چې عمده یې دا دي: افغانستان به له امریکا سره امنیتي تړون نه لاسلیکوي، له هندوستان سره به د هېڅ کان د استخراج تړون نه کېږي، د کانونو د استخراج ټول تړونونه به له موږ او چینایانو سره کېږي، د اوبو پر سر به وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ سره خبرې کېږي او د پښتونخوا پښتانه به اسلام اباد ته ګوري او د افغانستان پښتانه به کابل ته ګوري. د دې تر څنګ یو لړ نورې غوښتنې هم وې، خو تر ټولو مهمه یې دا وه چې لر پښتانه به اسلام اباد او بر پښتانه به کابل ته ګوري. خو خدای خبر که په دې یې هم صبر وشي، ځکه چې له دې سره هم دوی ته سپارل شوې پروژه نه بشپړېږي.

پای

د خدمتګار ملی ورځپاڼی څخه په مننه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ